الدرس السادس

شپږم درس

الغسل

غُسل

په خپل ټول بدن باندی د طهارت په نیت اُوبو اچولو ته غسل وائی ، په غسل کښې ټول بدن وینځل او خوله او پوزه کښې اُوبه اچول ضروری دی ، (د غسل طریقه : اول به خپله شرمګاه وینځی او دبدن په کومه حصه چی ګندګی لګیدلی وی ، هغه به وینځی بیا به دواړه لاسونه په زمکه یا بل شي باندی مسحه کړی، بیا به اودس وکړی پشان د اودس د مانځه البته خپي که اوس وینځي او که روستو ئی وینځي دواړه صحیح دي ، بیا به دري لپي په خپل سر واچوی ، او ګوتي به په ویختو کښې ورداخلی کړی چي ټول سر پوره طریقي سره لوند شی بیا به د بدن په ښئ او ګس طرف باندي اُوبه راواچوی او ټول بدن به ووینځی او آخر کښې د خپل ځائي نه یو طرفته شی ، او خپی به ووینځي. (صحیح بخاری۲۶۰،۲۵۶)د پنځو څیزونو دوجه نه غسل واجبیږی:اول : نارینه وی او که زنانه ، په ویخه وی او که په حالت د خوب کښې چی د بدن نه نطفه په خوند او ټوپ وهلو سره خارجه شی ، په داسی حالت کښې غسل واجب شی ، البته که نطفه بغیر د شهوت نه خارج شی ، لکه د بیمارئي د وجی نه یا دسختي یخنئ د وجی نه نو غسل نه واجبیږی ، دغه رنګه که خوب کښې د بنده احتلام وشی ، خوب ورته یاد وی لیکن د نطفئ څه اثر نه وی ، بیا هم غسل واجب ندی ، او که کپړو باندی د نطفی اثرات وی نو که خوب ورته یاد هم نوی بیا هم غسل واجب دی .دویم : دنارینه او زنانه شرمګاه د یوبل سره یو ځائي شی ، یعنی د نارینه د شرمګاه اوله حصه د زنانه په شرمګاه کښې پناه شی ،که نطفه خارجه هم نشی نو بیا هم غسل واجب شو .دریم : د حیض یا دنفاس موده چی ختمه شی غسل واجب دي.څلورم: مرګ ، څکه چه مړی لره غسل ورکول واجب دی .پنځم: کله چی کافر مسلمان شی نو غسل ورباندي واجب وی.حالت دجنابت (غټی نا پاکئ)کښې کوم کارونه کول حرام دی(۱) مونځ کول (۲) طواف کول(۳) قرآن کریم مسح کول بغیر دپردی نه ، دارنګه د قرآن کریم لوستل که په اُوچت آواز باندی وی او که په ښکته آواز باندی ، د مصحف نه وی او که د حفظ نه ، د جنب انسان دپاره جائزندی.(٤) مسجد کښې دډیر وخت دپاره پاتي کیدل په حالت د جنابت کښی جائز ندی ، مګر صرف په مسجد ورتیریدل جائزدی ، او خاځا پکښې که پاتی کیږی ، نو اودس دِي وکړی پدي سره به دغه ناپاکئ کښې څه کمي راشی.